**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل ګڼه: ۳۲** **نېټه: ۲۷ /۴ / ۱۴۴۴ هـ ق**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

**وبعد:** په ۱۴۴۴/۴/۲۱ ه ق نېټه، چې ۱۴۰۱/۸/۲۴ ه ش سره برابره ده، د قاضي القضاة او د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئیس الشیخ عبدالحکیم الحقاني په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورى جلسه دایره شوه چې د یاد مجلس لومړنۍ موضوع داسې وه: ((که د تمیز عالي ریاست رئیس او د ټولو ولایتونو د استیناف او ښاري محکمو محترمو رئیسانو لپاره د دوی د اړونده دیوانونود موضوعاتو د حل او فصل لپاره مشخصه ورځ وټاکل شوي، څنګه به وي؟))

د سترې محکمې د عالي شورى محترم مقام د پورتنۍ موضوع په تړاو د ۱۴۴۴/۴/۲۱ هـ ق نېټې د (۱۴) تصویب د لومړنۍ پرېکړې په ترڅ کې داسې هدایت وکړ: ((د تمیز عالي ریاست رئیس، د استیناف رئیس، ښاري رئیس او په مرکز کې د زون رئیس دې هره اونۍ د شنبې او یکشنبې په ورځو کې له مدني دیوان سره د مدني دیوان په موضوعاتو کار وکړي، د دوشنبې په ورځ دې له نظامي دیوان سره د نظامي دیوان په موضوعاتو کار وکړي، د سه شنبې په ورځ دې له تجارتي دیوان سره د تجارتي دیوان په موضوعاتو کار وکړي، د چهارشنبې په ورځ دې د عامه امنیت دیوان سره د عامه امنیت دیوان په موضوعاتو کار وکړي، او د پنجشنبې په ورځ دې د جزاء دیوان سره د جزاء دیوان په موضوعاتو کار وکړي.

که له پورتنیو دیوانونو څخه کوم دیوان په کومه محکمه کې نه وي، او یا هم دیوان وي خو کار یې کم وي، پورته لیکل شوی رئیس دې له هغه دیوان سره وکار وکړي چې کار یې زیات وي.

له پورته یادو رئیسانو څخه دې هر رئیس په هره کاري ورځ کې د خپل اړونده ریاست کارونه د غرمې مخکې تر ۱۰ بجو پورې سر ته ورسوي او ۱۰ بجې دې د پورتني ترتیب له مخې اړونده دیوان ته تشریف یوسي او د اړونده دیوان په موضوعاتو دې کار وکړي.

بناءً، د سترې محکمې د عالي شورى د محترم مقام هدایت د دې متحدالمآل په ذریعه د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو ته واستول شو تر څو یې په رڼا کې شرعي او اصولي اجراآت وشي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.